PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

په افغانستان کې د فساد درولو لپاره "مخنیوی" اړینه ده

کابل، 16 اپریل 2017

افغانستان د یوه ټپ ځخه چې د خونریزی په حال کې ده او د دغه هیواد د ځان بسیاینې بهیر ګوابنوي، رنځیږي. دغه ټپ فساد ده او خونریزی یې باید ودرول شي. لکه څنګه چې د ولسمشر غنی لخوا ټینګار شوی د افغانستان نوی نسل د هیواد لپاره یو امید ده ترڅو د فساد فرهنګ له منځه یوسي. اروپایي ټولنه پر یوه نوي نسل او نوي چلند باندې باور لري. په همدې خاطر نن په افغانستان کې د اروپایي ټولنې پلاوی خپل د فساد ضد کمپاین دریمه برخه چې د فساد ځخه پر مخنیوي باندې تمرکز لري، په لاره اچوي.

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مایکل میلبن وایی: " په افغانستان کې له فساد سره مبارزه باید په یو وخت کې له څو اړخونو پر مخ لاړه شي. د معافیت د فرهنګ پای ته رسولو ترڅنګ مور اړتیا لرو چې د فساد ځخه د مخنیوي په برخه کې کار وکړو. د دولت په لوړو برخو کې له فساد سره مبارزه د خلکو ملاتړ ته اړتیا لري او په دغه برخه کې رسنۍ او مدني ټولنې د دولتي چارواکو ځخه د حساب اخیستنې له لارې کولای شي مهم رول ولوبوي. "

دولت باید د ملکی خدمتونو د کارکونکو د امانتولی لپاره معیارونه وټاکي، د ځارنې قوي میکانیزمونه وګماري او د ملکي اداري په کار کې د ړوندتیا رامنځته کړي.

سفیر میلبن وایی: " له فساد ځخه مخنیوی همدارنګه خلکو ته د زدکړې ورکولو او په لرې پرته سیمو کې د خلکو لخوا بې له کومې ډاره د راپور ورکولو ښو زمینو برابرولو په معنا دي. ښه ګامونه پورته کیږي خو له فساد سره د مبارزې د لړۍ د پیاوړې کولو لپاره باید نور هم کار وشي. اطلاعاتو ته د لاس رسي د قانون پیاوړې پلي کولو ته باید لومړیتوب ورکول شي."

د لا ډیرو معلوماتو لپاره:

د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بریښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کیل اندرسن
د رسنیو او عامه اړیکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړې استازې
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ایمیل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu